# د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر

# ډاکټر سید مخدوم رهین پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

د پاچاخان علمي څېړنیز مرکز محترمو غړو!

درنو عالمانو، پوهانو، لیکوالانو او د قندهار د لرغوني ولایت محترمو خلکو، السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته!

د ویاړ ځای دئ چې په ښکلي قندهار کې د پاچاخان علمي څېړنیز مرکز مسؤلینو او نورو ورڼو د افغانستان د وروستیو څو لسیزو بدلونونو په باب علمي سیمینار جوړ کړی دئ.

تر هغه ځایه چې زه خبر یم په دې سیمینار کې د ګرانو لیکوالانو، سیاست پوهانو او څېړونکو له خوا د ګران هیواد د سیاسي، فرهنګي، اقتصادي او ټولنیزو بدلونونو په باب خبرې کیږي او د افغانانو د ژوندانه څونوري برخې به هم څېړونکي او پوهان وڅېړي.

افغانستان له هغو لومړنیو هېوادونو څخه دئ، چې په ختیځ کې په ۱۹۱۹ کال کې ئې خپله خپلواکي او آزادي تر لاسه کړه.

افغانستان سره له دې چې په وچې پوري تړلی او یو غرنی او یو وروسته پاته هېواد دئ، د نړۍ له زیاتو هېوادونو سره ئې خپلې سیاسي اړیکې ټینګې کړې دي.

له بده مرغه افغانستان د خپلواکۍ له تر لاسه کولو وروسته څه د پاسه دوې لسیزې په مطلقه شاهي نظامونو کې تېر کړې، خو په ۱۳۴۳ کال کې د اساسي قانون په تدوین او نافذیدو سره د افغانستان خلک له دیموکراسۍ سره بلد سول، چې د هېواد د آزادۍ غوښتونکو او مشروطه غوښتونکو د مبارزو محصول وو، او زیاتره دغه آزادي غوښتونکي او مشروطه غوښتونکي د قندهار له پاکي خاوري څخه پورته سوي وو، په څلوېښتمه لمریزه لسیزه کې په افغانستان کې څه ناڅه څو دېرش غیر دولتي چاپي خپروني رامنځته سوې. د لومړي ځل له پاره د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲۶ نېټه په افغانستان کې جمهوري نظام رامنځته سو. افغانستان له ۱۳۴۳ کال څخه تر نن پوري شپږ ډوله سیاسي نظامونه تجربه کړل او نهه تنه زمامداران واک ته ورسېدل.

دا چې په وروستۍ نیمه پېړۍ کې په بېلابیلو برخو کې زموږ هېواد څه بدلونونه تر لاسه کړل، ستاسې د سیمینار د خبرو وړ موضوعګاني دي. خو له بده مرغه په دې څو لسیزو جګړو او ټکرونو کې چې زیاتره د اجانبو د لاسوهنو او لمسون له امله وو، موږ زیات بریالیتوبونه له لاسه ورکړل.

او س چې په وروستیو لسو کلنو کې نړیوالي ټولني د افغانستان مرستې ته دانګلي دي او زموږ د هېواد د بیا رغوني په برخو کې له موږ سره مرسته کوي او ډیموکراسي او د بیان آزادي د اوسني نظام ډېر ښه زیری دئ، بیا هم د نورو لاسوهني زموږ د ګړندي پرمختګ په وړاندي یو چلینج دئ.

د خدای(ج) له درباره څخه هیله کوم چې د افغانستان مظلوم خو مېړنی، صبور او با ایمانه ملت وکولای سي چې ښه راتلونکی تر لاسه کړي.